غفور لیوال ۲۰۱۲/۱۰/۲۹

# دسولې ګدايي

تر دیرشو کلو ډیره موده کیږي، چې دسولې ګدايي کوو، کله يې له ختيز زبر څواکه غواړو، کله له لویدیزه، کله یوه ګاونډي ته لاس نيسو او کله بل ته پلو غوړوو، موږ لکه ډوډۍ، جامې او څوکۍ، چې له نورو غواړو، د سولې په ګدايي مو هم خولې ستومانه شوې، خو څوک يې نه راکوي د اولې ؟ سوله چېرته ده ؟ او څوک يې موږ ته خيرات راکولای شي؟ دا پوښتنې مهمې دي، دومره مهمې چې زموږ هريوه ژوند ورپورې تړلی دی .
سوله نه له شوروي سره ده، نه له امريکا سره، بلکې سوله زموږ د میندو په دعا کې ده او زموږ ه دپلرونو په فکرونو کې ده .
ګران لوستونکي به وخاندي، زما خبره به د يوه ساده خبرې ورته وبرېښي، لوستونکی به دا هم وايي، چې جګړه خو همدغو څواکونو او ګاونډيو راوستې ده نو څنګه به سوله زموږ میندې او پلرونه راولي ؟
خو ګرانه لوستونکيه ! که لږ ځير شو، زموږ سوله همدغو پرديو له موږ.څخه غلاکړې ده، جګړه د دوی ده، خو اسباب يې موږ يو، ټوپک د دوی ده خو اوږه زموږ ده، وژل کيږو موږ، ګټې دوی کوي ... ښه دا شکايت مو هم ډير تکرار کړی دی، خو زه دلته هغه لومړنۍ خبره کوم، چې سوله زموږ په کورونو کې ورکه ده او د سولې دګدايي لپاره ښايي خپلې کورنۍ ته ورشو، دپلار لاسونه ونيسو او دمور پښوته کوز شو. دا زما عاطفي او شاعرانه ولولې ندي، زه د جنګ او سولې ذهنيت له کورنيو پيليدونکی ګڼم، ځکه په افغانستان کې ټولنيز واحد کورنۍ ده او د شخصيت د روزلو او ټولنيز وضعيت د جوړيدلو لومړنۍ روزنځی هم کورنۍ ده. موږ ډير ځله د کورنۍ په درلودلو نازيږو، د کورنيو ارزښتونو په خوندي ساتلو وياړ کوو او لويديځوال راته بې کورنۍ ښکاري او ورپورې خاندو. لويديځوالو د وګړي د رالوييدو، ځوانيدو، زړيدو او آن د مرګ لپاره د يوه مناسب بستر او چاپيريال په اړه فکر کړی دی، خو موږ داسې نه کوو، په موږ کې دا متل عام دی، چې ويې زيږوه روزي خدای ورکوي ا و زور يې زمکه اخلي ... بېشکه چې روزي خدای ورکوي، خو دی ( وګړی ) هم بايد يوڅه خواري وکړي، او زور يې هم هر کله زمکه نه اخلي، بلکې ډيره ځله د داسې وګړي زور، چې سم نه وي روزل شوی، پر بل وګړي راځي. هغه وګړی، چې ټوپک يې رااخيستی وي او خلک وژني، له يوه اړخه يې کورنۍ په دې جنايت کې ورسره شريکې دي، هغه وګړي، چې پر بل مسلمان ظلم کوي، کورنۍ يې په ټولنه کې کوزګورې او شرمنده وي او هغه وګړی ، چې بل وګړی ور څخه ځوريږي، خلک يې پر پلار او مور لعنت وايي ؛ دا زموږ دټولنې عادت دی .
جګړه له همدې ځايه پيليږي، ټول هغه وګړي، چې افغانان وژني، د افغانانو ملي ارزښتونه لوټي، هېواد ته تاوان رسوي، پلار او مور لري او دغه میندې او پلرونه په مسئوليت کې شريک ګڼل کيږي. د جګړې او تاو تريخوالي ډک چلند بايد د مور له خوا ومينځل شي او د سولې او په يوه ګټور انسان د بدليدو شعور بايد د پلار له خوا ورکړل شي، په جګړو کې ډير ماشومان بې پلاره او بې موره شول د دوی د سوله ييزې روزنې مسئوليت هر هغه څوک لري، چې رالويوي يې او يا هم حکومت ښايي د هغوی لپاره ګټور پروګرامونه ولري.
دافغانيزم اړتيا :
دسولې ګدايي بايد له کورنيو پيل کړو، دا د افغانيزم غوښتنه ده، د سولې لپاره يو ملي جهاد بايد په هره کورنۍ کې را پيل شي، يوازې دوه نسله که سوله ييز وروزل شي، نو موږ له دې تاريخي ګدايي څخه د تل لپاره خلاصيږو، ښايي هغه شمېر خلک، چې د جګړې پر مشروعيت ټينګار کوي دا خبره ونه مني، مګر د هغوی لپاره هم تر ټولو ښه جګړه همدا ده، همدغه مشروع جګړه دوی هم خپلې موخې ته رسوي، څنګه ؟ داسې :
تاسو دوه نسله په سوله ييزه روحيه وروزئ، دوی په مثبتو او پياوړو، ګټورو وګړيو بدل کړئ، چې هېواد پر خپلو پښو ودروي، افغانستان پياوړی کړي، بيا نو دا شته بهرنيان هم په سياست او منطقي زور ايستلی شي او په راتلونکي کې هم د تل لپاره افغانستان له هر ډول يرغل څخه ژغورلی شي، د ماشوم په سوله ييزه روزنه کې د افغانستان د پياوړتيا راز پروت دی، چې بيا به هيڅ کافر يا مسلمان پر افغانستان د تيري زړه ښه نه کړي، موږ شخړه ييزې او ناسمې روزنې له پښو غورځولي يو، خپلمنځي تاوتريخوالي دې بريد ته رارسولي يو چې نن يو کافر راننوځي او سبا بل، زموږ کمزوري او له منطقي چلنده لرېوالی دی، چې موږ په کرار نه پريږدي. دسولې په راوستلو کې تر امريکا او پاکستانه د افغاني مور ونډه ډيره ده، راځئ چې محاسبه يې کړو، ټولو ميندو ته سوال وکړو، چې خپل بچيان له سنګرونو څخه کور ته راوګرځوي، ټوپک ورڅخه واخلي او په يوې مړۍ ډوډۍ پسې يې واستوي، زه قسم خورم، چې په دوه ورځو کې سوله راځي، که دغه جګړه مارنسل مو اوس له لاسه وتلی وي، راځئ پند ترې واخلو او د راروانو نسلونو په سوله ييزه او عاطفي روزنه پيل وکړو، بس د خپل ټول راتلونکي لپاره به مو جګړه نابوده کړې


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

وي او داسې يو هوښيار، کاري او معقول نسل به موروزلی وي، چې هيڅاته د افغانستان په چارو کې د مداخلې حق ورنه کړي او چې د دوی پر مټ افغانستان ودان، ځواکمن، پرمختللی او د سيالانو سيال وي، نو بيا به نه پردي راځي او نه به موږ ته اړتيا وي چې خپل ټول عمرونه په سنګرونو کې تېر کړو.

حکومت، رسنۍ، اغيزمن شخصيتونه، ديني عالم ، د کورنيو انجمنونه، دپوهنې وزارت، د ښځو د چارو وزارت او نور بنسټونه ښايي په کورنيو کې دسوله ييزې روزنې لپاره متې رابډوهي، ميندې بايد خپلو زامنو ته د نويو اتلانو کيسې وکړي، هغه اتلان چې څوک نه وژني، خو خپل هېواد ودانوي، پلرونه ښايي د خپلو زامنو لپاره د سولې او ودانۍ موډلونه شي، سوله پخپله راځي. پردي موږ ته سوله په خيرات کې نه راکوي، د سولې خيرات له خپلو وغواړئ.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ